# د عزرا کتاب

## کوروش پاچا او د یهودیانو راستنېدل

١ ١ د فارس د پاچا کوروش د امپراتورۍ په لومړي کال هغه وعده چې څښتن د ارمیا نبي په
وسیله کړې وه، پوره کړه. هغه کوروش دې ته وهڅاوه چې دا لاندې حکم جاري کړي او هغه په
لیکلي ډول خپلې ټولې امپراتورۍ ته واستوي او په هرځای کې دې په لوړ اواز سره ولوستل شي:

٢ «د پارس پاچا کوروش داسې وایي: ‹د اسمانونو څښتن خدای ماته د نړۍ ټولې
پاچاهۍ راکړې دي او زه يې ټاکلی یم چې د یهودا په اورشلیم کې د هغه دپاره د عبادت
ځای جوړ کړم. ٣ خدای تاسو ټولو ته چې د هغه قوم یئ، اجازه درکوي چې اورشلیم ته
لاړ شئ او د اسراییلو د څښتن خدای کور بیا جوړ کړئ یعنې د هغه خدای کور چې په
اورشلیم کې يې عبادت کېږي. ٤ که چېرې په جلاوطنۍ کې د هغه د قوم څخه څوک د
بېرته ستنېدلو دپاره مرستې ته اړتیا ولري، د هغه ګاونډیان باید د هغه سره دا مرسته وکړي.
هغوی باید هغه ته سپین او سره زر، سامان، څاروي او د خپلې خوښې نذرانې تیارې کړي
چې په اورشلیم کې د خدای په کور کې وړاندې شي.›»

٥ نو د یهودا او بنیامین د قبیلو د طایفو مشران، کاهنان او لاویان او هر هغه څوک چې خدای
يې زړه نرم کړی ؤ، دې ته تیار شول چې لاړ شي او په اورشلیم کې د څښتن کور بېرته جوړ کړي.
٦ د هغوی ټولو ګاونډیانو د هغوی سره مرسته وکړه او هغوی ته يې دا شیان ورکړل: د سپینو
زرو لوښي، سره زر، سامان، څاروي، نور قیمتي شیان او د خدای د کور دپاره د خپلې خوښې
نذرانې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ هغه لوښي چې نبوکدنصر په اورشلیم کې د خدای د کور څخه وړي وو او د خپلو خدایانو په
کور کې یې ایښي وو، کوروش پاچا هغه بېرته هغوی ته ورکړل. ۸ کوروش پاچا هغه شیان د
شاهي خزانې مشر میتردات ته وسپارل. میتردات هغه وشمېرل او دا لست یې د یهودا قومي مشر
شیشبصر ته ورکړ. ۹-۱۰ لست په لاندې ډول ؤ:

د نذرانو دپاره د سرو زرو لویې کاسې: ۳۰ دانې

د نذرانو دپاره د سپینو زرو لویې کاسې: ۱۰۰۰ دانې

نورې کاسې: ۲۹ دانې

د سرو زرو کوچنۍ کاسې: ۳۰ دانې

د سپینو زرو کوچنۍ کاسې: ۴۱۰ دانې

نور لوښي: ۱۰۰۰ دانې

۱۱ د سرو او سپینو زرو کاسو او نورو لوښو ټول شمېر ۵۴۰۰ ؤ او کله چې شیشبصر د نورو
جلاوطنو خلکو سره د بابل څخه اورشلیم ته راستون شو هغه یې د ځان سره راوړل.

## د راستانه شوو جلاوطنو خلکو لست

(نحمیا ۷: ۴ – ۷۳)

۲ ۱ ډېرو جلاوطنو خلکو د بابل ولایت پرېښود او اورشلیم او یهودا ته یعنې خپلو ښارګوټو ته
راستانه شول. له هغه وخت څخه چې نبوکدنصر پاچا هغوی د اسیرانو په توګه بابل ته بیولي وو، د
هغوی کورنۍ هلته په جلاوطنۍ کې اوسېدلې. ۲ دا د هغوی مشران وو: زروبابل، یشوع، نحمیا،
سرایا، رعیلایا، مردخای، بلشان، مسفار، بغوای، رحوم او بعنه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا د اسراییلو د طایفو لست دی چې په هغه کې د هرې طایفې د خلکو شمېر لیکل شوی دی چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو:

۲:۳-۲۰ د فرعوش له طایفې څخه – ۲۱۷۲ تنه

د شفطیا له طایفې څخه – ۳۷۲ تنه

د آرح له طایفې څخه – ۷۷۵ تنه

د فحت مواب له طایفې څخه (چې د یشوع او یواب د اولادې څخه وو) – ۲۸۱۲ تنه

د عیلام له طایفې څخه – ۱۲۵۴ تنه

د زتو له طایفې څخه – ۹۴۵ تنه

د زکي له طایفې څخه – ۷۶۰ تنه

د باني له طایفې څخه – ۶۴۲ تنه

د ببای له طایفې څخه – ۶۲۳ تنه

د عزجد له طایفې څخه – ۱۲۲۲ تنه

د ادونیقام له طایفې څخه – ۶۶۶ تنه

د بغوای له طایفې څخه – ۲۰۵۶ تنه

د عادین له طایفې څخه – ۴۵۴ تنه

د آطیر له طایفې څخه (د حزقیا په نوم هم یادېده) – ۹۸ تنه

د بیسای له طایفې څخه – ۳۲۳ تنه

د یوره له طایفې څخه – ۱۱۲ تنه

د حاشوم له طایفې څخه – ۲۲۳ تنه

د جبار له طایفې څخه – ۹۵ تنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱-۳۵ هغه خلک چې نیکونه یې په لاندېنیو ښارګوټو کې اوسېدل هم راستانه شول:

د بیت لحم ښخه – ۱۲۳ تنه

د نطوفه ښخه – ۵۶ تنه

د عناتوت ښخه – ۱۲۸ تنه

د عزموت ښخه – ۴۲ تنه

د قریت یعاریم، کفیرې او بیروت ښخه – ۷۴۳ تنه

د رامې او جبعې ښخه – ۶۲۱ تنه

د مخماس ښخه – ۱۲۲ تنه

د بیت ییل او عای ښخه – ۲۲۳ تنه

د نبو ښخه – ۵۲ تنه

د مغبیش ښخه – ۱۵۶ تنه

د بل عیلام ښخه – ۱۲۵۴ تنه

د حاریم ښخه – ۳۲۰ تنه

د لود، حادید او اونو ښخه – ۷۲۵ تنه

د اریحا ښخه – ۳۴۵ تنه

د سناعه ښخه – ۳۶۳۰ تنه

۳۶-۳۹ دا د هغو کاهنانو د طایفو لست دی چې د جلاوطنۍ ښخه راستنې شوې:

د یدعیا د طایفې ښخه (چې د یشوع د اولادې ښخه وو) – ۹۷۳ تنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یمیر د طایفې څخه – ۱۰۵۲ تنه

د فشحور د طایفې څخه – ۱۲۴۷ تنه

د حاریم د طایفې څخه – ۱۰۱۷ تنه

۴۰-۴۲ د لاویانو هغه طایفې چې د جلاوطنی څخه راستنې شوې:

د یشوع او قدمي ییل د طایفو څخه (چې د هودویا اولاده وه) – ۷۴ تنه

د خدای د کور د سندرغاړو څخه (چې د اساف اولاده وه) – ۱۲۸ تنه

د خدای د کور د ساتونکو څخه (چې د شلوم، آطیر، طلمون، عقوب، حطیطا او شوبای اولاده وه) – ۱۳۹ تنه

۴۳-۵۴ د خدای د کور د خدمتګارانو طایفې چې د جلاوطنی څخه راستنې شوې:

صیحا، حسوفا، تباعوت، قیروس، سیعها، فادون، لبانه، حجابه، عقوب، حاجاب، شملای، حانان، جدیل، جحر، رایاه، رزین، نقودا، جزام، عزه، فاسیح، بیسای، اسنه، معونیم، نفوسیم، بقبوق، حقوفا، حرحور، بزلوت، محیدا، حرشا، برقوس، سیسرا، تامح، نصیح او حطیفا.

۵۵-۵۷ د سلیمان د خدمتګارانو هغه طایفې چې د جلاوطنی څخه راستنې شوې:

سوطای، هسوفرت، فرودا، یعله، درقون، جدیل، شفطیا، حطیل، فوخرت حظبایم او آمي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۸ د خدای د کور د خدمتګارانو او د سلیمان د خدمتګارانو د اولادې ټول شمېر چې د جلاوطنۍ ځخه راستانه شوي وو، ۳۹۲ تنه وو.

۵۹-۶۰ شپږ سوه دوه پنځوس تنه د دلایا، طوبیا او نقودا د طایفو څخه وو او د تل ملح، تل حرشا، کروب، ادان او یمیر د ښارګوټو څخه راستانه شوي وو، خو هغوی نه شو کولای دا ثابته کړي چې د اسراییلیانو د اولادې څخه دي.

۶۱-۶۲ د کاهنانو دغو لاندېنیو طایفو ونه شو کولای چې خپلې سوانح راپیدا کړي ترڅو خپل نیکونه ثابت کړي: حبایا، هقوس او برزلای. (د برزلای د کاهنانو د طایفې نیکه د جلعادي برزلای د طایفې د یوې ښځې سره واده کړی ؤ او د خپل خسر د طایفې په نوم یاد شو.) څرنګه چې هغوی نه شو کولای دا ثابته کړي چې د هغوی نیکونه څوک وو، نو هغوی ناپاک ګڼل کېدل، نو ځکه د کاهنانو په توګه ونه منل شول. ۶۳ د یهودیانو والي هغوی ته وویل: «تر هغې پورې چې د کوم کاهن له خوا د اوریم او تمیم په وسیله معلومه نه شي چې تاسو په رښتیا سره کاهنان یئ، تاسو نه شئ کولای هغه ډوډۍ وخورئ چې خدای ته وړاندې کېږي.»

۶۴-۶۷ د هغو جلاوطنو خلکو شمېر چې راستانه شوي وو، ټول ۴۲۳۶۰ تنه وو. برسېره پر دې هلته ۷۳۳۷ تنه نارینه او ښځینه خدمتګاران وو. د نارینه او ښځینه سندرغاړو شمېر ۲۰۰ تنه وو. لاندیني څاروي هم ورسره وو:

اسونه – ۷۳۶

قچرې – ۲۴۵

اوښان – ۴۳۵

خره – ۶۷۲۰

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۸ کله چې جلاوطني خلک په اورشلیم کې هغه ځای ته ورسېدل چې پخوا په کې د څښتن کور
ؤ، نو د طایفو ځینو مشرانو رضاکارانه نذرانې ورکړې چې په خپل پخواني ځای کې د خدای د کور
په بیا جوړولو کې د هغه څخه کار واخیستل شي. ۶۹ هغوی د دې کار دپاره د خپل توان سره سم
پنځه سوه کیلوګرامه سره زر، دوه زره اته سوه کیلوګرامه سپین زر او د کاهنانو دپاره یې سل دانې
چپنې خزانې ته ورکړې.

۷۰ کاهنان، لاویان او ځینې نور خلک په اورشلیم کې یا د اورشلیم سره نژدې ځای په ځای
شول. سندرغاړي، د خدای د کور ساتونکي او خدمتګاران په نژدې ښارګوټو کې ځای په ځای
شول او پاتې اسراییلیان په هغو ښارګوټو کې ځای په ځای شول چې د هغوی نیکونه اوسېدلي وو.

## د قربانۍ د مراسمو بیا پیل

۳ ۱ کله چې اوومه میاشت راورسېدله، د اسراییلو قوم په خپلو ښارګوټو کې ځای په ځای
شول. بیا هغوی ټول په اورشلیم کې په اتفاق سره راغونډ شول. ۲ د یوصاداق زوی یشوع او د
هغه ملګرو کاهنانو، د شالتي ییل زوی زروبابل او د هغه خپلوانو د اسراییلو د خدای د قربانۍ ځای
بیا جوړ کړ، ترڅو هغوی وکولای شي د هغو حکمونو سره سم چې د خدای د نبي موسی په شریعت
کې لیکل شوي وو، سوځېدونکې نذرانې وړاندې کړي. ۳ که څه هم راستانه شوي جلاوطني
خلک د هغو خلکو څخه چې په هغه خاوره کې اوسېدل وېرېدل، خو هغوی هغه د قربانۍ ځای په
خپل پخواني ځای کې بیا جوړ کړ. وروسته یې په هغه باندې د سهارنیو او ماښامنیو سوځېدونکو
قربانیو څښتن ته وړاندې کول بیا پیل کړل. ۴ هغوی د لیکل شوو اصولو سره سم د جونګړو
اختر ولمانځه او هره ورځ یې د هماغې ورځې سوځېدونکې قربانۍ وړاندې کولې. ۵ برسېره
پر دې، هغوی عادي سوځېدونکې نذرانې، د نوې میاشتې قربانۍ او د څښتن د نورو ټولو ټاکل شویو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلو جشنونو قرباني وړاندې کړې او هغوی هغه نذرانې هم راوړلې چې څښتن ته به په خپله
خوښه ورکول کېدلې. ۶ که څه هم خلکو لا د عبادتځای د بیاجوړونې کار نه ؤ پیل کړی، هغوی
د اوومې میاشتې په لومړۍ ورځ څښتن ته د سوځېدونکو نذرانو په وړاندې کولو پیل وکړ.

## د خدای د کور د بیاجوړونې پیل

۷ خلکو ګلکارانو او نجارانو ته پیسې ورکړې او همدارنګه یې د صور او صیدون ښارونو ته
خواړه، څښاک او د زیتونو تېل ورولېږل چې د هغو په بدل کې د لبنان څخه د سبر ونې د دریاب له
لارې یافا ته راوړل شي. دا کار د فارس د پاچا کوروش په اجازه وشو. ۸ نو د دوهم کال په
دوهمه میاشت وروسته له دې چې هغوی بېرته په اورشلیم کې هغه ځای ته راغلل چې مخکې په
کې د خدای کور ؤ، په کار یې پیل وکړ. زروبابل، یشوع او د هغوی نور وطنداران، یعنې کاهنان او
لاویان، او هغه ټول جلاوطني خلک چې بېرته اورشلیم ته راغلي وو، د هغوی سره په کار کې
بوخت شول. هغه ټول لاویان چې عمرونه یې شل کاله او یا زیات وو د خدای د کور د بیاجوړونې
د کار مسوولان وټاکل شول. ۹ لاوي یشوع او د هغه زامن او خپلوان او قدمي ييل او د هغه
زامن (چې د هودویا له طایفې څخه وو) سره یوځای شول چې د خدای د کور د بیاجوړونې
مسوولیت په غاړه واخلي. (له هغوی سره د حیناداد د طایفې لاویانو مرسته کوله.)

۱۰ کله چې معمارانو د خدای د کور بنیاد کېښود، کاهنانو چې چپنې یې اغوستې وې او په لاسونو
کې یې سرنې وو په خپلو ځایونو کې ودرېدل او هغه لاویان چې د اساف له طایفې څخه وو، د
خپلو تالونو سره په هغه ځای کې ودرېدل. هغوی د داود د لارښوونې سره سم د څښتن ثنا وویله.
۱۱ هغوی په خپل وار د ثنا په ویلو او شکرګزارۍ سره څښتن ته دا سندره ویله:

څکه چې نېک دی څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ټولو په لوړ اواز چيغې وهلې او د ښښتن ثنا يې ويله، ځکه چې د ښښتن د کور بنياد ايښودل
شوی ؤ. ١٢ ډېرو زړو کاهنانو، لاويانو او د طايفو مشرانو چې د خدای اولنی کور يې ليدلی ؤ، نو
ښنګه چې هغوی وليدل چې د دې کور بنياد ايښودل پيل شوي دي، هغوی په لوړ اواز ژړا وکړه.
خو نورو خلکو له خوشحالۍ چيغې ووهلې. ١٣ هېڅوا د خوشحالۍ له چيغو او ژړا ترمنځ فرق نه
شو کولای، ځکه چې هغوی داسې شورماشور جوړ کړی ؤ چې د ډېر لېرې ځای څخه اورېدل
کېده.

## د خدای د کور د بياجوړونې سره مخالفت

۴ ١ کله چې د يهودا او بنيامين د خلکو دښمنانو واورېدل چې هغه خلک چې له جلاوطنۍ
څخه راستانه شوي دي د اسراييلو د ښښتن خدای د عبادت ځای بيا جوړوي، ٢ نو هغوی
زروبابل او د طايفو مشرانو ته ورغلل او هغوی ته يې وويل: «موږ ته اجازه راکړئ چې ستاسو سره
مرسته وکړو! له هغه وخت راهيسې چې د اشور پاچا اسرحدون موږ دلته راوستلي يو، موږ ستاسو
په شان ستاسو د خدای عبادت کوو او هغه ته قرباني وړاندې کوو.»

٣ زروبابل، يشوع او د طايفو مشرانو هغوی ته وويل: «موږ خپل خدای ته د کور په جوړولو
کې ستاسو مرستې ته هېڅ اړتيا نه لرو، خو موږ به خپله هغه خپل ښښتن، يعنې د اسراييلو خدای ته
جوړ کړو لکه ښنګه چې د فارس پاچا کوروش امر کړی دی.»

٤ نو هغو خلکو چې په دې وطن کې اوسېدل هڅه وکړه چې د يهوديانو زړونه تور کړي، هغوی
ووېروي او مجبور يې کړي چې د ودانولو کار ودروي. ٥ همدارنګه هغوی د فارس حکومتي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مامورینو ته رشوت هم ورکاوه چې د هغوی په خلاف کار وکړي. هغوی دې کار ته د کوروش د پاچاهۍ په دوران کې او حتی د داریوش د پاچاهۍ تر پیل کېدلو پورې دوام ورکړ.

## د اورشلیم د بیا ودانولو سره مخالفت

٦ د خشایار شاه د امپراتورۍ په پیل کې د یهودا او اورشلیم د خلکو دښمنانو په هغوی باندې لیکل شوي تورونه ولګول.

٧ د فارس د پاچا ارتخشتا د امپراتورۍ په وخت کې بشلام، میتردات، تبییل او د هغوی ملګرو پاچا ته لیک ولیکه. دا لیک په آرامي ژبه لیکل شوی ؤ چې د لوستلو په وخت کې به ترجمه کېده.

٨ همدارنګه رحوم والي او د ولایت منشي شمشای د اورشلیم په اړه دا لاندې لیک ارتخشتا پاچا ته ولیکه:

٩ «د والي رحوم، د منشي شمشای، د هغوی د ملګرو، قاضیانو او نورو ټولو مامورینو او
څارونکو له خوا چې په اصل کې له ارک، بابل او د عیلام د شوشه دي، ١٠ د هغو نورو
خلکو سره یوځای چې لوی او عزتمن آشوربانیپال د خپلو هېوادونو څخه شړلي وو او د
سامریې په ښار او د فرات د سیند د لوېدیځې خوا ولایت په نورو برخو کې یې ځای په ځای
کړي وو.»

١١ د لیک متن دا دی:

«ارتخشتا پاچا ته د هغه د هغو خدمتګارانو له خوا چې د فرات د سیند په لوېدیځې خوا ولایت کې اوسیږي سلامونه وړاندې کیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ مونږ غواړو چې تاسو اعليحضرت په دې خبر شئ چې هغه يهوديان چې ستاسو د نورو
سيمو څخه دلته راغلي دي، په اورشليم کې ځاى په ځاى شوي دي او هغه بد او ياغي ښار
بېرته ودانوي. نژدې دى چې هغوى د دېوالونو او بنيادونو بياجوړونه پاى ته ورسوي. ۱۳
اى اعليحضرته، که چېرې دا ښار بېرته ودان شو او د هغه دېوالونه جوړ شول، نو خلک به د
باج او ماليې ورکول بس کړي او ستاسو پاچاهي عايدات به لږ شي. ۱۴ نو څرنګه چې مونږ
تاسو اعليحضرت ته وفادار يو، مونږ نه غواړو چې ستاسو بې عزتي وشي، نو مونږ دا وړانديز
کوو، ۱۵ تاسو حکم وکړئ چې د پخوانيو پاچاهانو سندونه دې ولټول شي. که تاسو دا کار
وکړئ، نو تاسو ته به څرګنده شي چې دا ښار تل ياغي ؤ او د پخوا زمانو څخه يې پاچاهان
او واليان کړولي دي. د دې ښار په خلکو باندې حکومت کول تل سخت وو. نو ځکه دا ښار
وران شوى دى. ۱۶ له دې امله مونږ په دې باندې باور لرو چې که چېرې دا ښار بيا ودان
شو او د هغه دېوالونه جوړ شول، نو تاسو اعليحضرت به ونه شئ کولاى چې د فرات د سيند
د لوېديځې خوا ولايت باندې خپله واکمني وساتئ.»

۱۷ پاچا داسې ځواب ورولېږه:

«د رحوم والي، د ولايت منشي شمشاى او د هغوى ملګرو ته چې په سامره او د فرات د سيند
د لوېديځې خوا ولايت په نورو برخو کې اوسيږي، په تاسو دې سلام وي.
۱۸ هغه ليک چې تاسو رالېږلى ؤ وروسته له ترجمې څخه ماته ولوستل شو. ۱۹ ما حکم
کړى ؤ او څېړنه وشوه او په رښتيا دا څرګنده شوه چې اورشليم له پخوا زمانو راهيسې د
شاهي واکمنى په خلاف راپورته شوى او هغه ښار د ياغيانو او باغيانو ډک ؤ. ۲۰ قدرتمندو
پاچاهانو هلته پاچاهي کړې ده او د فرات د سيند له لوېديځې خوا په ټول ولايت باندې يې
حکومت کړى، باج او ماليه يې راټوله کړې ده. ۲۱ نو له دې امله تاسو بايد حکم جاري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړئ چې زما د بل حکم پورې هغه خلک د ښار د بیا ودانولو کار ودروي. ۲۲ لتې ونه
کړئ او دا کار همدا اوس وکړئ ترڅو امپراتورۍ ته نور زیان ونه رسیږي.»

۲۳ څنګه چې د ارتخشستا پاچا لیک رحوم، شمشای او د هغو ملګرو ته ولوستل شو، هغوی په
بیړه اورشلیم ته لاړل او یهودیان یې په زوره مجبور کړل چې د ښار بیا ودانول ودروي.

۲۴ په دې ډول په اورشلیم کې د خدای د کور د جوړولو کار درېدلی ؤ او د فارس پاچا داریوش
د امپراتورۍ تر دوهم کال پورې وځنډېده.

## د خدای د کور د بیا ودانولو کار شروع کیږي

**۵** ۱ په هغه وخت کې دوه نبیانو یعنې حجي او د عیدو زوی زکریا د اسراییلو د هغه خدای
پیغام چې د ټولو نه اوچت دی، هغو یهودیانو ته ورساوه چې په یهودا او اورشلیم کې اوسېدل. ۲
کله چې د شالتیې ییل زوی زروبابل او د یوصاداق زوی یشوع د هغوی پیغام واورېد، په اورشلیم کې
یې د خدای د کور په بیا ودانولو پیل وکړ او دواړو نبیانو د هغوی سره مرسته وکړه.

۳ تتنای د فرات د سیند د لوېدیځې خوا د ولایت والي، شتار بوزنای او د هغوی ملګري
مامورین پرته له ځنډه اورشلیم ته راغلل او پوښتنه یې وکړه: «تاسو ته چا امر کړی دی چې دا کور
جوړ کړئ او سرته یې ورسوئ؟» ۴ همدارنګه یې د هغوی نه پوښتنه وکړه: «د هغو سړیو نومونه
راکړئ چې د خدای د کور په جوړولو کې مرسته کوي.» ۵ خو خدای د یهودیانو مشران د خپل
نظر لاندې ساتل. نو والي او د هغه ډلې پرېکړه وکړه تر هغې چې هغوی داریوش ته رپوټ نه وي
ورکړی او ځواب یې نه وي تر لاسه کړی، خلک به نه مجبوروي چې کار ودروي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ دا هغه لیک دی چې د فرات د سیند د لوېدیځ ولایت والي، شتار بوزنای او د هغوی همکارانو
داریوش پاچا ته لېږلی ؤ:

۷ «ژوندی دې وي داریوش پاچا!

۸ د پاچا حضور ته دې دا راپور وراندې شي چې مونږ د یهودا ولایت ته چې د لوی خدای کور
په کې دی، لاړو. مونږ ولیدل چې هغه کور د لویو تیږو څخه جوړېږي او د هغه په دېوالونو باندې د
لرګیو تیران ایښودل کېږي. دا کار په ډېر غور سره کېږي او د ودانولو کار په ښه ډول په مخ ځي.

۹ بیا مونږ د قوم د مشرانو نه پوښتنه وکړه: ‹تاسو ته چا امر کړی دی چې دا کور جوړ
کړئ او سرته یې ورسوئ؟› ۱۰ همدارنګه مونږ د هغوی د نومونو پوښتنه وکړه ترڅو
وکولای شو د هغو کسانو نومونه ولیکو او تاسو خبر کړو چې هغوی د دوی مشران دي.
۱۱ هغوی ځواب راکړ: ‹مونږ د ځمکې او اسمان د خدای خدمتګاران یو او د هغه هغه کور
بېرته جوړوو چې ډېر کلونه مخکې د اسراییلو د لوی پاچا له خوا جوړ شوی او د هغه د
جوړولو کار سرته رسېدلی ؤ. ۱۲ خو په دې سبب چې زمونږ نیکونو د اسمانونو خدای په
قهر کړی ؤ، نو خدای هغوی د بابل پاچا کلداني نبوکدنصر ته تسلیم کړل او هغه دا کور وران
کړ او خلک یې د اسیرانو په توګه د بابل هېواد ته بوتلل. ۱۳ خو د بابل پاچا کوروش د
خپلې پاچاهۍ په لومړي کال یو فرمان ورکړ چې د خدای دا کور دې بیرته جوړ شي. ۱۴ د
سرو او سپینو زرو هغه لوښي چې نبوکدنصر د اورشلیم د عبادت د ځای نه وړي وو او هغه
یې د بابل د عبادت په ځای کې ایښي وو، کوروش پاچا هغه د هغه ځای نه راوویستل او یو
سړي ته یې چې شیشبصر نومېده او کوروش هغه د یهودا د والي په توګه ټاکلی ؤ، وسپارل.
۱۵ پاچا هغه ته وویل: ”دا لوښي واخله، لاړ شه او په اورشلیم کې یې د خدای په کور کې
کېږده. د خدای کور په هماغه پخواني ځای کې بېرته ودان کړه.“ ۱۶ نو شیشبصر راغی او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای د کور بنیاد یې کېښود. له هماغه وخت نه تر اوسه پورې د هغه د جوړولو کار روان دی
او تر اوسه لا پای ته نه دی رسېدلی.›
۱۷ نو که ستاسو د اعلیحضرت خوښه وي، پر پرېږدئ چې د بابل شاهي سندونه ولټول شي،
ترڅو دا معلوم شي چې کوروش پاچا په رښتیا دا امر کړی ؤ یا نه، چې په اورشلیم کې دې د
خدای دا کور بېرته ودان شي. بیا مونږ خبر کړئ چې په دې هکله ستاسو پرېکړه څه ده.»

## د داریوش ځواب

# ۶

۱ نو داریوش پاچا یو فرمان وکړ چې شاهي سندونه دې د بابل په ارشیف کې ولټول شي.
۲ خو د اکباتان د ښار په بالاحصار کې چې د ماد په ولایت کې ؤ یو طومار وموندل شو چې په
هغه کې داسې لیکل شوي وو:

«دا رسمي سوانح دي.
۳ کوروش پاچا د خپلې امپراتورۍ په لومړي کال حکم وکړ چې په اورشلیم کې دې د
خدای کور د هغه په پخواني ځای کې د قربانۍ د وړاندې کولو دپاره بیا ودان شي. هغه دې
داسې جوړ شي چې اووه ویشت متره لوړوالی او اووه ویشت متره سور ولري. ۴ دېوالونه
یې باید داسې جوړ شي چې د لویو تیږو د هرو دریو پوړونو په سر باندې دې یو پوړ لرګي
وي. د هغې ټول لګښت دې د شاهي خزانې له خوا ورکړل شي. ۵ همدارنګه د سرو او
سپینو زرو هغه لوښي چې نبوکدنصر پاچا په اورشلیم د خدای د کور څخه بابل ته راوړي وو،
هغه دې بېرته په اورشلیم کې د خدای په کور کې په خپلو ځایونو کې کېښودل شي.»

۶ نو داریوش پاچا دا لاندې ځواب ولېږه:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«د فرات د سیند د لوېدیځې خوا والي تتنای، شتار بوزنای او ستاسو هغه ملګرو مامورینو ته
چې د فرات د سیند په لوېدیځ کې اوسېږي: د خدای کور ته نژدې نه شئ. ۷ د خدای د
دې کور د جوړولو په کار کې لاس وهنه مه کوئ. پرېږدئ چې د یهودا والي او د یهودیانو
مشران هغه کور په خپل پخواني ځای کې بېرته ودان کړي. ۸ زه په دې ډول تاسو ته
حکم کوم چې د هغوی سره د خدای د دې کور په بیاجوړولو کې مرسته وکړئ. د هغوی
لګښتونه دې پوره او بې له ځنډه د هغو شاهي پیسو څخه ورکړل شي چې د مالیو له لارې د
فرات د سیند د لوېدیځې خوا په ولایت کې تر لاسه شوي دي، ترڅو په کار کې ځنډ رانه
شي. ۹ هغه څه چې کاهنان ورته په اورشلیم کې اړتیا لري یعنې سخوندران، پسونه او
وري چې د اسمانونو خدای ته د سوځېدونکو نذرانو په توګه وړاندې کېږي او غنم، مالګه،
شراب او د زیتونو تېل هره ورځ پرته له دې چې ځنډ په کې رامنځته شي، ورکړئ. ۱۰ دا
کارونه باید وشي، ترڅو هغوی وکولای شي هغه قربانۍ وړاندې کړي چې د اسمانونو خدای
ورباندې خوشحالېږي او زما او زما د زامنو دپاره د برکت دعا وکړي. ۱۱ برسېره پر دې، زه
امر کوم چې که څوک د دې حکم نه سرغړونه وکړي، نو د هغه د کور نه دې د لرګیو یو تیر
راوویستل شي، د هغه یو سر دې تېره شي او بیا دې د هغه په تن کې ومنډل شي. ورسته دې
د هغه کور په ډېران باندې بدل شي. ۱۲ هغه خدای چې اورشلیم یې د خپل عبادت دپاره
غوره کړی دی، هر پاچا یا هر قوم چې د دې حکم نه سرغړونه وکړي او د خدای دا کور
وران کړي، خدای دې هغه له منځه یوسي. زه داریوش داسې حکم کوم چې زما د امر څخه
دې په پوره توګه اطاعت وشي.»

## د خدای د کور جوړېدل او وقف کېدل

۱۳ نو څنګه چې پاچا حکم کړی ؤ، تتنای والي، شتار بوزنای او د هغو ملګرو مامورینو کټ مټ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هماغسې وکړل. ۱۴ د یهودیانو مشرانو د خدای د کور په جوړولو کې ښه پرمخ تګ وکړ، څکه
چې حجي او د عیدو زوی زکریا چې نبیان وو، هغوی ېې د دې کار دپاره هڅول. هغوی د اسراییلو
د خدای د حکم سره سم او د فارس د پاچاهانو کوروش، داریوش او د ارتخششتا د فرمان له مخې
د خدای د کور کار سرته ورساوه. ۱۵ هغوی د داریوش د امپراتورۍ په شپږم کال د ادار د میاشتې
په درېمه ورځ د خدای د دې کور کار پای ته ورساوه. ۱۶ د اسراییلو خلکو یعنې کاهنانو، لاویانو
او هغو نورو خلکو چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو، په خوشحالۍ سره د خدای د دې د کور
د وقف کېدلو جشن ولمانځه. ۱۷ هغوی د وقف کېدنې دپاره سل غویان، دوه سوه پسونه او څلور
سوه وري قرباني کړل او دولس وزان یې د ټولو اسراییلو د ګناه د نذرانې په توګه قرباني کړل یعنې د
هرې قبیلې په سر یو یو وز. ۱۸ هغوی د موسی د تورات د لارښوونو سره سم په اورشلیم کې د
خدای د خدمت دپاره د کاهنانو او لاویانو ډلې وټاکلې.

## د فسحې اختر

۱۹ هغه خلک چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو د لومړۍ میاشتې په څوارلسمه ورځ یې د
فسحې اختر ولمانځه. ۲۰ ټولو کاهنانو او لاویانو خپل ځانونه پاک کړل او د مذهبي دود او دستور
له مخې پاک شول. لاویانو د هغو ټولو خلکو دپاره چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو، د نورو
کاهنانو او ځانونو دپاره د فسحې د قربانیو وري حلال کړل. ۲۱ دا قرباني هغو اسراییلیانو
وخوړلې چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو او هغو ګاونډیانو هم وخوړلې چې د دې هېواد د
نورو ناپاکو قومونو د ګناه څخه ډک رواجونه یې پرېښي وو، د دې دپاره چې د اسراییلو د څښتن
خدای عبادت وکړي. ۲۲ هغوی اووه ورځې د فطیرې ډوډۍ اختر په خوشحالۍ سره ولمانځه. د
هغوی زړونه د خوشحالیو نه ډک وو، څکه چې څښتن د آشور پاچا په هغوی باندې مهربانه کړی ؤ
او د هغوی سره یې د اسراییلو د خدای د کور په بیاجوړولو کې مرسته وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اورشليم ته د عزرا رارسېدل

۷ ۱ وروسته له ډېرو کلونو څخه کله چې ارتخششتا د فارس پاچا ؤ، د عزرا په نوم يو سړی ؤ
چې شجره يې تر مشر کاهن هارون پورې رسېدله. د هغه شجره په لاندې ډول وه: عزرا د سرايا
زوی ؤ، سرايا د عزريا زوی ؤ، عزريا د حلقيا زوی ؤ، ۲ حلقيا د شلوم زوی ؤ، شلوم د صادوق
زوی ؤ، صادوق د اخيطوب زوی ؤ، ۳ اخيطوب د امريا زوی ؤ، امريا د عزريا زوی ؤ، عزريا د
مرايوت زوی ؤ، ۴ مرايوت د زرحيا زوی ؤ، زرحيا د عزي زوی ؤ، عزي د بقي زوی ؤ، ۵
بقي د ابيشوع زوی ؤ، ابيشوع د فينحاس زوی ؤ، فينحاس د العازار زوی ؤ او العازار د مشر کاهن
هارون زوی ؤ.

۶-۷ عزرا يو ديني عالم ؤ او په تورات باندې چې د اسراييلو څښتن خدای موسی ته ورکړی
ؤ، ښه پوهېده. په دې خاطر چې عزرا سره د خپل څښتن خدای برکت ؤ، نو هرڅه چې هغه
غوښتل، پاچا هغه ته ورکول. د ارتخششتا د امپراتورۍ په اووم کال عزرا د بابل نه روان شو او د
يوې ډلې اسراييليانو سره چې په هغو کې کاهنانو، لاويانو، د خدای د کور ساز غږوونکو، د خدای د
کور ساتونکو او خدمتګارانو ګډون درلود، اورشليم ته لاړ. ۸-۹ عزرا د لومړۍ مياشتې په
لومړۍ ورځ د بابل نه روان شو او د خدای په مرسته د پنځمې مياشتې په لومړۍ ورځ اورشليم ته
راورسېدل. ۱۰ دا مرسته ځکه ورسره وشوه چې عزرا خپل ژوند د څښتن د شريعت زده کړې ته،
په هغه باندې عمل کولو ته او د اسراييلو خلکو ته د شريعت د حکمونو او قوانينو ورزده کولو ته
وقف کړی ؤ.

## هغه ليک چې ارتخششتا پاچا عزرا ته ورکړ

۱۱ ارتخششتا پاچا دا لاندېنی ليک عزرا ته چې کاهن او ديني عالم ؤ، ورکړ. ځکه چې هغه په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو قوانینو او حکمونو باندې ښه پوهېده چې څښتن اسراییلو ته ورکړي وو:

۱۲ «د ارتخششتا، د پاچاهانو پاچا له خوا عزرا کاهن ته چې د اسمانونو د خدای د شریعت
عالم دی، سلامونه:
۱۳ زه په دې توګه امر کوم چې د اسراییلو هغو ټولو خلکو، د هغوی کاهنانو او لاویانو ته
چې زما په ټوله امپراتورۍ کې دي او غواړي چې ستا سره اورشلیم ته لاړ شي، اجازه ورکړل
شي. ۱۴ ما د خپلو اووه مشاورانو سره یوځای پرېکړه وکړه چې تا عزرا ولېږم چې په
اورشلیم او یهودا کې حالات وڅېړې او وګورې چې ستا د خدای شریعت چې تاته سپارل
شوی دی څنګه ورڅخه اطاعت کیږي. ۱۵ ته باید د سرو او سپینو زرو هغه نذرانې د ځان
سره یوسې چې زه او زما مشاوران غواړو هغه د اسراییلو خدای ته چې کور یې په اورشلیم
کې دی، ورکړو. ۱۶ ته باید هغه سپین او سره زر چې د بابل د ټولې سیمې څخه یې
راټولوې او هغه نذرانې چې د اسراییلو خلک او کاهنان یې په خپله خوښه اورشلیم کې د
خپل خدای کور ته ورکوي، هم یوسې.
۱۷ ته باید دا پیسې په ډېر پام سره ولګوې او په هغو باندې غویان، پسونه، وري، غلې دانې
او شراب واخلې او هغه په اورشلیم کې ستاسو د خدای د کور د قربانۍ په ځای باندې قربانې
کړې. ۱۸ هرڅه چې تاته او ستا ملګرو ته ښه ښکاري د هغو دپاره د پاتې سپینو او سرو
زرو څخه د خپل خدای د رضا سره سم ولګوئ. ۱۹ هغه لوښې چې تاته ستا د خدای د
کور په کارونو کې د استعمالولو دپاره درکړل شوي دي هغه ټول د اورشلیم خدای ته وړاندې
کړه. ۲۰ ستا د خدای د کور دپاره هر شي ته چې اړتیا وي، ته کولای شې چې د شاهي
خزانې څخه یې واخلې.
۲۱ زه ارتخششتا د فرات د سیند د لوېدیځې خوا سیمې ټولو خزانه دارانو ته حکم کوم چې
هرڅه چې کاهن او د اسمانونو د خدای د شریعت عالم عزرا یې ستاسو څخه غواړي، هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته زر تیار کړئ. ۲۲ هغه ته تر درې زره او څلور سوه کیلوګرامو پورې سپین زر، لس
ټنه غنم، دوه زره لیتره شراب، دوه زره لیتره د زیتونو تېل او هرڅومره مالګې ته چې اړتیا
ولري، ورکړئ. ۲۳ هرڅه چې د اسمانونو خدای یې د خپل کور دپاره غواړي باید هغه
ورته په احتیاط سره تیار کړئ. هغه کار ونه کړئ چې څښتن په ما او په هغو پاچاهانو باندې
چې زما څخه وروسته راځي، په قهر شي. ۲۴ تاسو ته اجازه نشته چې د کاهنانو، لاویانو،
سندرغاړو، ساتونکو، خدمتګارانو او هغو نورو کار کوونکو څخه چې د خدای د دې کور
پورې تړاو لري باج او مالیه راټوله کړئ.
۲۵ ای ښاغلیه عزرا! د هغه حکمت له مخې چې خدای تاته درکړی دی مدیران او قاضیان
وټاکه چې په هغو خلکو باندې حکومت وکړي چې د فرات د سیند په لوېدیځې خوا کې دي
او ستاسو د خدای د حکمونو لاندې خپل ژوند تېروي. هغه څوک چې په هغو حکمونو باندې
نه پوهېږي باید هغوی ته یې ورزده کړئ. ۲۶ که چېرې څوک ستاسو د خدای د قوانینو یا
د پاچا د قوانینو څخه سرغړونه وکړي، هغوی ته باید ډېر زر سزا ورکړل شي. یا دې هغوی
ووژل شي، یا دې د وطن څخه وشړل شي، یا دې د هغوی شتمني ورڅخه واخیستل شي او یا
دې بندي شي.»

## عزرا او د خدای ستاینه

۲۷ عزرا وویل: «زمونږ د نیکونو څښتن خدای ته دې ثنا وي! هغه پاچا دې ته راضي کړ چې په
دې ډول په اورشلیم کې د څښتن د کور عزت او درنښت وکړي. ۲۸ څښتن په ما باندې پاچا، د
هغه مشاوران او لوړ رتبه درباریان مهربانه کړل. زما څښتن خدای ماته دا توان راکړ ترڅو وکولای
شم د اسراییلو د قوم مشران راټول کړم چې زما سره بېرته اورشلیم ته راشي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عزرا او د راستنو شوو مشرانو لست

۸ ۱ دا د هغو طایفو د مشرانو لست دی چې په بابل کې جلاوطني وو او د ارتخششتا د
امپراتورۍ په وخت کې زما سره اورشلیم ته راستانه شول:

۲-۳ جرشون د فینحاس له طایفې څخه
دانیال د ایتامار له طایفې څخه
حطوش د شکنیا زوی د داود له طایفې څخه
زکریا د یوسلو پنځوسو کسانو سره د فرعوش له طایفې څخه (دا د هغوی په نسب نامه کې
ثبت شوي دي.)
۴ الیهوعینای د زرحیا زوی د دوو سوو تنو سره د فحت موآب له طایفې څخه
۵ شکنیا د یحزییل زوی د درېو سوو تنو سره د زتو له طایفې څخه
۶ عابد د یوناتان زوی د پنځوسو تنو سره د عادین له طایفې څخه
۷ اشعیا د عتلیا زوی د اویاو تنو سره د عیلام له طایفې څخه
۸ زبدیا د میکاییل زوی د اتیاو تنو سره د شفطیا له طایفې څخه
۹ عوبدیا د یحییل زوی د دوو سوو اتلسو تنو سره د یوآب له طایفې څخه
۱۰ شلومیت د یوسفیا زوی د یوسلو شپېتو تنو سره د باني له طایفې څخه
۱۱ زکریا د ببای زوی د اته ویشتو تنو سره د ببای له طایفې څخه
۱۲ یوحانان د هقاتان زوی د یوسلو لسو کسانو سره د عزجد له طایفې څخه
۱۳ الیفلط، یوییل، شمعیه د شپېتو کسانو سره د ادونیقام له طایفې څخه (دوی وروسته
راستانه شوي دي.)
۱۴ عوتای او ذکور د اویاو کسانو سره د بغوای له طایفې څخه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عزرا د خدای د کور دپاره لاویان لټوي

۱۵ ما هغوی د هغه نهر په غاړه چې د اهاوا د ښارګوټي خواته بهیږي، سره راغونډ کړل او درې
ورځې مو هلته خپلې خېمې ودرولې. کله چې ما هغه خلک او کاهنان وکتل، د هغوی په منځ کې
مې د لاویانو څخه څوک پیدا نه کړل. ۱۶ ما دغه مشران راوغوښتل چې نومونه یې دا دي:
الیعازر، اریيل، شمعیه، الناتان، یاریب، الناتان، ناتان، زکریا او مشلام. همدارنګه مې دوه ښوونکي،
یویاریب او الناتان هم راوغوښتل. ۱۷ ما هغوی عیدو ته چې په کاسیفیا کې مشر ؤ، ولیږل او
هغوی ته مې وویل چې د هغه او د هغه د ملګرو څخه چې د خدای د کور خدمتګاران وو، وغواړي
چې مونږ ته داسې خلک راولیږي چې زمونږ د خدای په کور کې خدمت وکړي. ۱۸ خدای په
مونږ باندې فضل وکړ او هغوی د شربیا په نوم یو لایق سړی چې لاوي ؤ او د محلي د طایفې څخه
ؤ، د خپلو اتلسو زامنو او خپلوانو سره مونږ ته راولیږه. ۱۹ همدارنګه هغوی حشبیا او اشعیا چې د
مراري د طایفې څخه وو د خپلو شلو خپلوانو او د هغوی د زامنو سره راولیږل. ۲۰ برسېره پر دې
هغوی د خدای د کور دوه سوه شل تنه هغه خدمتګاران چې د هغوی نیکونه د داود پاچا او د هغه د
درباریانو له خوا د لاویانو سره د مرستې دپاره ټاکل شوي وو، راولیږل. د هغوی د ټولو نومونه په
لست کې لیکل شوي وو.

## عزرا او خلکو ته د روژې او دعا بلنه

۲۱ هلته ما د اهاوا د نهر په غاړه د ټولو نه وغوښتل چې روژه ونیسو او د خپل خدای په مخکې
خپل ځانونه عاجز کړو او د هغه څخه وغواړو چې مونږ ته په خپل سفر کې لارښوونه وکړي او
زمونږ، زمونږ د اولادونو او زمونږ د ټولې شتمنۍ څخه ساتنه وکړي. ۲۲ دا به زما دپاره د شرم
خبره وای چې د پاچا څخه مې د سپرو عسکرو لښکر غوښتلی وای، ترڅو په سفر کې مونږ د
دښمنانو څخه خوندي وساتي، ځکه چې مونږ هغه ته ویلي وو چې هغه څوک چې زمونږ په خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې توکل کوي، نو هغه ورته برکت ورکوي، خو څوک چې د هغه نه مخ اړوي په هغه باندې په
قهر کېږي او سزا ورکوي. ۲۳ نو مونږ روژه ونیوله او خدای ته مو زاري وکړه چې مونږ وساتي او
هغه زمونږ دعا قبوله کړه.

## د خدای د کور دپاره سوغاتونه

۲۴ د کاهنانو د مشرانو څخه ما دولس تنه غوره کړل، یعني شربیا، حشبیا او لس تنه د هغوی د
خپلوانو څخه. ۲۵ بیا هغه سپین زر، سره زر او لوښي چې پاچا، د هغه مشاورانو او درباریانو او د
اسراییلو حاضرو خلکو زمونږ د خدای د کور دپاره ورکړي وو، ما هغه وتلل او کاهنانو ته مې
ورکړل. ۲۶-۲۷ هغه شیان چې هغوی ته مې ورکړي وو هغه دا دي:

سپین زر – ۲۲ ټنه

د سپینو زرو سل لوښي – ۷۰ کیلوګرامه

سره زر – ۳۴۰۰ کیلوګرامه

د سرو زرو شل کاسې – اته کیلو او څلورسوه ګرامه

دوه ډېرې ښې ځلا لرونکې برنجي کاسې چې بیه یې د سرو زرو د کاسو د بیې سره برابره ده.

۲۸ ما کاهنانو ته وویل: «تاسو د خپلو نیکونو څښتن خدای ته سپېڅلي یئ او دا لوښي هم هغه ته
سپېڅلي دي. سپین او سره زر څښتن ته رضاکارانه ورکړل شوې نذرانې دي. ۲۹ تاسو هغه د
څښتن کور ته چې په اورشلیم کې دی په احتیاط سره یوسئ. هلته د کاهنانو په کوټو کې د کاهنانو
د مشرانو، لاویانو او د اسراییلو د کورنیو د مشرانو په مخکې هغه شیان وتلئ او هغوی ته یې
ورکړئ.» ۳۰ نو کاهنانو او لاویانو دا مسوولیت په غاړه واخیست چې هغه سپین زر، سره زر او
لوښي زمونږ د خدای کور ته چې په اورشلیم کې دی، یوسي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اورشليم ته راستنېدل

۳۱ د کال د لومړۍ مياشتې په دولسمه ورځ مونږ د اهاوا د نهر څخه اورشليم ته روان شو. زمونږ
خدای زمونږ سره ؤ او په سفر کې يې د دښمنانو د کمين او بريد څخه وساتلو. ۳۲ کله چې
اورشليم ته ورسېدلو، درې ورځې مونږ هلته دمه وکړه. ۳۳ په څلورمه ورځ د خپل خدای کور ته
لاړو، سپين زر، سره زر او لوښي مو وتلل او هغه مو مريموت کاهن ته چې د اوريا زوی ؤ، ورکړل.
العازار د فينحاس زوی او لاويان د يشوع زوی يوزاباد او د بنوي زوی نوعديه هم د مريموت سره
وو. ۳۴ ټول شيان وشمېرل شول او وتلل شول او په هماغه وخت کې د هر شي وزن وليکل شو.

۳۵ هغو خلکو چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو د اسراييلو خدای ته سوځېدونکې نذرانې
قرباني کړې. هغوی دولس غويان د ټولو اسراييليانو دپاره او همدارنګه شپږنوي پسونه او اووه اويا
وري نذرانه کړل. هغوی دولس وزان هم د ګناه څخه د خپلو ځانونو د پاکولو دپاره نذرانه کړل. دا
ټول حيوانات څښتن ته د سوځېدونکې قربانۍ په توګه وړاندې شول. ۳۶ همدارنګه هغوی هغه
سند چې پاچا ورته ورکړی ؤ، واخيست او هغه يې د فرات د سيند د لوېديځې سيمې واليانو او
مامورينو ته ورکړ او هغوی بيا د خلکو او د خدای د کور څخه ملاتړ او مرسته وکړه.

## د پرديو قومونو سره د ودونو په هکله د عزرا خبرېدل

۹ ۱ وروسته له دې چې دا کارونه سرته ورسېدل، د اسراييلو د قوم ځينې مشران ماته راغلل او
راته ويې ويل: «د اسراييلو قوم، کاهنانو او لاويانو خپل ځانونه د ګاونډي هېوادونو يعنې د عمون،
موآب او مصر د خلکو او د کنعانيانو، حيتيانو، فرزيانو، يبوسيانو او اموريانو څخه چې ناوړه کارونه
يې کول، جدا نه دي ساتلي. ۲ د يهوديانو ځينو سړيو د پرديو قومونو د ښځو سره ودونه وکړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل زامن يې هم پرېښودل چې همداسې کار وکړي او په دې توګه د خدای سپېڅلی قوم د پردیو قومونو سره ورګډ شو. زمونږ خپل مامورين او مشران په دې ګناه کې د ټولو نه مخکې وو.» ۳
کله چې ما دا خبره واورېدله، نو د ډېره غمه مې خپل کميس او چپنه وشلوله او د خپل سر او ږيرې وېښتان مې وشکول او ډېر زيات غمجن کښېناستم. ۴ زه د ماښام تر قربانۍ پورې همداسې هلته غمجن ناست وم او خلک ورو ورو زما په شاوخوا راټول شول، هغه ټول خلک چې د اسراييلو د خدای د وينا له امله چې د جلاوطنو د بې وفايۍ په اړه يې کړې وه، خبر شول او ووېرېدل.

۵ کله چې د ماښامنۍ قربانۍ وخت راورسېده، زه د هغه ځای نه چې وير مې په کې کاوه او شلېدلي کالي مې هم په ځان کې وو، پاڅېدم. بيا په ګونډو شوم او خپل لاسونه مې خپل څښتن خدای ته د دعا دپاره پورته کړل. ۶ ما ووېل: «ای زما خدايه، زه ډېر شرمېږم چې ستا په حضور کې خپل سر پورته کړم. ځکه چې زمونږ د ګناهونو ډېرى زمونږ له سرونو څخه هم لوړه شوې ده چې تر اسمانونو پورې رسېږي. ۷ زمونږ د نيکونو د زمانې څخه تر اوسه، مونږ يعنې ستا قوم ډېر لوی ګناهونه کړي دي. د ګناهونو له امله مونږ په خپله، زمونږ پاچاهان او زمونږ کاهنان د پرديو پاچاهانو ته په لاس ورغلي يو. مونږ يې وژلي يو، لوټ کړي يې يو او د بنديانو په توګه يې د ځان سره وړي يو. مونږ بالکل رسوا شوي يو او تر نن ورځې رسوا او بې عزته پاتې يو. ۸
اوس ای زمونږ څښتن خدايه، لږه موده کېږي چې په مونږ باندې مهربان شوی يې او زمونږ ځينې خلک دې پرېښودل چې د غلامۍ څخه خلاص شي او په ډاډه زړه په دې سپېڅلي ځای کې ژوند وکړي. تا مونږ تر يو حده د غلامۍ نه خلاص کړو او نوی ژوند دې راکړ. ۹ که څه هم مونږ غلامان يو، خو تا په غلامۍ کې هم زمونږ څخه خپل مخ ونه اړاوه. تا د فارس پاچاهان په مونږ باندې مهربانه کړل او مونږ ته دې نوی ژوند راکړ چې ستا هغه وران شوی کور بېرته ودان کړو او په يهودا او اورشليم کې ډاډه ژوند وکړو.

۱۰ نو ای زمونږ خدايه، اوس مونږ نور څه ويلی شو؟ حتی د دې ټولو کارونو وروسته هم مونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د هغو حکمونو نه سرغړونه وکړه ۱۱ چې تا د خپلو خدمتګارانو نبیانو په وسیله مونږ ته
راکړي وو. هغوی مونږ ته ویلي وو چې هغه ځمکه چې مونږ به یې تر لاسه کړو هغه د یو سر نه تر
بله سره پورې د هغه ځای د اوسېدونکو د ناوړو عملونو له امله ناپاکه شوې ده. ۱۲ هغوی مونږ
ته ویلي وو چې که چېرې مونږ وغواړو په دې ځمکه کې زورور واوسو او د محصولاتو نه یې ګټه
واخلو او تر پایه یې خپلو اولادونو ته په میراث پرېږدو، هېڅکله باید د دې خلکو سره ودونه ونه
کړو او داسې کار ونه کړو چې د هغوی د بریالیتوب او نېکمرغۍ سبب شي. ۱۳ هغه څه چې
زمونږ سره وشول هغه زمونږ د بدو عملونو او لویو ګناهونو نتیجه ده. ای زمونږ خدایه، مونږ پوهېږو
چې مونږ د لویې سزا وړ وو، خو تا مونږ ته د هغې نه کمه سزا راکړې ده چې مونږ یې لایق وو او
زمونږ څخه ځینې خلک دې پرېښودل چې ژوندي پاتې شي. ۱۴ نو اوس مونږ څنګه کولای شو
چې ستا د حکمونو څخه بیا سرغړونه وکړو او د هغو بد عملو خلکو سره ودونه وکړو؟ که دا کار
وکړو، نو ته به دومره په قهر شې چې مونږ به په پوره توګه له منځه یوسې او یو به هم ژوندی
پرېنږدې. ۱۵ ای د اسراییلو څښتن خدایه، ته عادل یې، خو بیاهم زمونږ څخه دې ځینې خلک
ژوندي پرېښي دي. مونږ ستا په مخکې د خپلو ګناهونو اقرار کوو او مونږ د دې حق نه لرو چې ستا
په حضور کې ودرېږو.»

## د پردیو قومونو د ښځو څخه بېلتون

۱۰ ۱ په داسې حال کې چې عزرا د خدای د کور په مخکې په دعا کې په سجده پرېوت،
هغه ژړل او د قوم په ګناهونو باندې یې اقرار کاوه. د اسراییلیانو یوه ډېره لویه ډله چې سړي، ښځې
او ماشومان په کې وو د هغه په شاوخوا راټول شول او ډېر سخت یې وژړل. ۲ بیا شکنیا د
یحییل زوی چې د عیلام د طایفې څخه ؤ، عزرا ته وویل: «مونږ د پردیو قومونو د ښځو سره په
ودونو کولو د خپل خدای سره خپله وفاداري ماته کړه، خو بیاهم د اسراییلو د قوم دپاره هیله شته.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ راځئ اوس د خپل خدای سره لوظ وکړو چې مونږ به دا ټولې ښځې او د هغوی اولادونه
وشړو. مونږ به دا کار ستاسو او د هغو خلکو د مشورې سره سم چې د خدای حکم ته درناوی
کوي، وکړو. مونږ به د خدای د شریعت د غوښتنې سره سم عمل وکړو. ۴ راپاڅېږه، دا ستا
مسوولیت دی. مونږ ستا شاته ولاړ یو، نو په زړورتیا سره دا کار وکړه.»

۵ نو عزرا د کاهنانو مشرانو، لاویانو او نورو اسراییلیانو ته قسم ورکړ چې دوی به د شکنیا د
مشورې څخه پیروي وکړي. ۶ بیا عزرا د خدای د کور د مخې نه د الیاشیب د زوی یهوحانان د
خوب کوټې ته ورغی او هلته یې شپه تېره کړه. هغه نه څه وخوړل او نه یې څه وڅښل، ځکه چې
د جلاوطنو خلکو په بې وفایی باندې یې ویر کاوه.

۷-۸ د قوم د مشرانو په امر ټول اورشلیم او یهودا ته یې پیغام ولېږه، هغه خلک چې د
جلاوطنۍ څخه راستانه شوي دي، ټول باید په اورشلیم کې سره راغونډ شي. که چېرې څوک په
درې ورځو کې رانغلل، نو د هغه ټول مال او جایداد به ترې واخیستل شي او هغه به د دې ټولنې
څخه وشړل شي. ۹ په درېو ورځو کې، د نهمې میاشتې په شلمه ورځ هغه ټول خلک چې د
یهودا او بنیامین په سیمو کې اوسېدل، اورشلیم ته راغلل او د خدای د کور په حویلۍ کې سره
راغونډ شول. هغوی لړزېدل، ځکه چې له یوې خوا دا یوه ډېره مهمه غونډه وه او بله دا چې هلته په
سخت باران کې ناست وو.

۱۰ عزرا کاهن پاڅېد او هغوی ته یې وویل: «تاسو بې وفایي کړې ده او د پردیو قومونو د ښځو
سره په ودونو کولو باندې مو د اسراییلو ګناهونه زیات کړي دي. ۱۱ نو اوس د خپلو نیکونو د
څښتن خدای په مخکې د خپلو ګناهونو اقرار وکړئ او هغه کار وکړئ چې هغه وربانديې
خوشحالیږي. د هغو پردیو خلکو نه چې زمونږ په خاوره کې اوسیږي، جدا شئ او د پردیو ښځو
څخه ځانونه خلاص کړئ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ټولو خلکو په لوړ اواز ځواب ورکړ: «تاسو په حقه خبره کوئ. څنګه چې تاسو وایئ
هماغسې باید وکړو.» ۱۳ خو هغوی زیاته کړه: «دلته ډېر زیات خلک دي او سخت باران وریږي.
مونږ نه شو کولای چې دلته دباندې ودرېږو. دا داسې کار نه دی چې په یوې یا دوه ورځو کې سرته
ورسیږي، ځکه چې په مونږ کې ډېر خلک په دې ګناه اخته دي. ۱۴ پرېږدئ چې زمونږ مشران په
اورشلیم کې پاتې شي او د دې موضوع مسوولیت په غاړه واخلي. بیا هغه څوک چې ښځه یې د
پردي قوم څخه وي، هغه دې د خپل ښار د مشرانو او قاضیانو سره یوځای په ټاکلي وخت راشي.
په دې ډول به د دې موضوع په هکله زمونږ د خدای سخت قهر سوړ شي.» ۱۵ د عساهیل د
زوی یوناتان او د تقوه د زوی یحزیا او د هغوی د ملاتړ کوونکو یعنې مشلام او لاوي شبتای څخه
پرته نور هیڅا د دې پلان سره مخالفت ونه کړ.

۱۶ راستانه شویو جلاوطنو خلکو دا پلان ومنلو، نو عزرا کاهن د طایفو د مشرانو له منځ نه کسان
وټاکل او د هغو نومونه یې ولیکل. د لسمې میاشتې په لومړۍ ورځ هغوی کتنپناستل او خپله څېړنه
یې پیل کړه ۱۷ او هغوی د لومړۍ میاشتې په لومړۍ ورځ د هغو خلکو ټولې قضیې وڅېړلې چې
د پردي قوم څخه یې ښځې کړې وې.

## د پردي قوم ښځې لرونکي سړي

۱۸ د هغو خلکو لست چې د پردي قوم څخه یې ښځې کړې وې:

د طایفو له مخې د کاهنانو لست:

د یوصاداق د زوی یشوع او د هغه د ورونو د طایفې څخه: معسیا، الیعازر، یاریب او جدلیا.
۱۹ هغوی لوظ وکړ چې خپلې ښځې به وشړي. د خپلو ګناهونو په خاطر یې یو پسه د
قربانۍ په توګه وړاندې کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ د یمیر له طایفې څخه: حناني او زبدیا

٢١ د حاریم له طایفې څخه: معسیا، ایلیا، شمعیه، یحییل او عزیا

٢٢ د فشحور له طایفې څخه: الیوعینای، معسیا، اسماعیل، نتنییل، یوزاباد او العاسه.

٢٣ د لاویانو څخه: یوزاباد، شمعي، قلایا (چې د قلیطا په نوم هم یادیږي)، فتحیا، یهودا او الیعازر.

٢٤ د سندرغاړو څخه: الیاشیب

د خدای د کور له ساتونکو څخه: شلوم، طالم او اوري

٢٥ د نورو اسراییلیانو څخه: د فروش له طایفې څخه: رمیا، یزیا، ملکیا، میامین، العازار، ملکیا او بنایاه

٢٦ د عیلام له طایفې څخه: متنیا، زکریا، یحییل، عبدي، یریموت او ایلیا

٢٧ د زتو له طایفې څخه: الیوعینای، الیاشیب، متنیا، یریموت، زاباد او عزیزا

٢٨ د ببای له طایفې څخه: یهوحانان، حننیا، زبای او عتلای

٢٩ د باني له طایفې څخه: مشلام، ملوک، عدایا، یاشوب، شیال او یریموت

٣٠ د فحت موآب له طایفې څخه: عدنا، کلال، بنایاه، معسیا، متنیا، بزل ییل، بنوي او منسي.

٣١-٣٢ د حاریم له طایفې څخه: الیعازر، اشیا، ملکیا، شمعیه، شمعون، بنیامین، ملوک او شمریا

٣٣ د حاشوم له طایفې څخه: متنای، متاته، زاباد، الیفلط، یریمای، منسي او شمعي

٣٤-٣٧ د باني له طایفې څخه: معدای، عمرام، اویل، بنایاه، بیدیا، کلوهي، ونیا، مریموت، الیاشیب، متنیا، متنای او یعسو

٣٨-٤٢ د بنوي له طایفې څخه: شمعي، شلمیا، ناتان، عدایا، مکندبای، شاشای، شارای، عزرییل، شلمیا، شمریا، شلوم، امریا او یوسف

٤٣ د نبو له طایفې څخه: یعییل، متتیا، زاباد، زبینا، یدو، یوییل او بنایاه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۴ دې ټولو خلکو د پردیو قومونو څخه ښځې کړې وې او ځینو سړیو د دې ښځو څخه
ماشومان هم لرل.


afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.